



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 2 نوامبر 2015 م

## غزل

ماته خبرې نور د جنګ او خصومت مکوه
غلې شه ګوره د دی غلو راته صفت مکوه

مړه او ژوندی غلان د وطن ټول صادقان بولې ته
خبر چې نه یی نو بې ځایه قضاوت مکوه

وطن وطن دی خپله ژبه او دودونه خپل دی
د اجنبی ملک په ښکلا خیال د جنت مکوه

نوم او نښان د وطن هرکله سر لوړی ساته
پر دی ته هيڅکله د خپل وطن غيبت مکوه

خپله ګمراه یی ولی نوروته نصیت ښه کوی
لاس کی سګرټ بل ته خبری د صحت مکوه

د پر مختــګ جهت وټاکه خپل وطن لپاره
محبه دروغه نور بدلون خپل په جهت مکوه

***

محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی